مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۲۶/۰۸/۱۶

# د صلصال مجسمې نه هېرېدونکې غمجنه تاريخي کيسه

طالبانو په افغانستان کې ونړوله، ویټنامیانو بیا ورغوله او په نیویارک کې یې نړۍ ته ودروله

د پټ جنت ګندهارا لرغوني او تاريخي تمدن اغېز، د زرګونو کلونو تمدني ميراث، غمجن برخليک تاريخي روايت، د صلصال مجسمه له باميانه تر نيويارکه د هنر، تاريخ او کولتور اوږد سفر، د افغانستان لرغوني بودا مجسمه د څو مياشتو راهيسې د نيويارک په ستر اقتصادي مېټروپول ښار کې ننداري ته نصبه شوې ولاړه ده.

مخکې له دې چې په اسلامي نړۍ کې او د افغان مقتدرو شاهانو، واکمنانو او امپراتورانو له خوا د مجسمو د ساتنې تاريخ او دريغ وخيړل شي، اړينه ده چې د صلصال مجسمې د جوړېدو هنر، د دې لرغوني تاريخي اثر د بيا رامنځته کېدو انګېزه او په کې د کارول شويو موادو په اړه لنده کتنه وړاندې شي. په 1976 کال کې ښاغلی توان انډريو نګوين د ويټنام د سيګون ,,اوسني هو چي مين ښار,, کې زېږېدلی دی. نوموړی دا مهال د ويټنام په هو چي مين ښار کې ژوند کوي او هنري فعاليت لري.

نګوين د نړۍ په ګڼو معتبرو هنري موزيمونو او هنري بنسټونو کې خپلې انفرادي نندارتونونه وړاندې کړې، چې له هغو څخه د شيکاګو د هنر انستيټيوټ (2025)، د سميتسونين امريکايي هنرونو موزيم په واشنګټن ډي سي (2024)، زيتز موکا په کيپټاون، سويلي افريقا کې (2024)، فونډاسيو جوان ميرو په بارسلونا، اسپانيه کې (2023) او د نيويارک ښار په نيو موزيم کې هنري اثار د يادونې وړ دي.

ښاغلي نګوين د خپل هنري فعاليت له امله ګڼ معتبر نړيوال وياړونه او جايزې ترلاسه کړې دي، چې له هغو څخه د 2025 کال د مک‌آرتور فيلوشپ (Mac Arthur Fellowship) ترلاسه کول يو له مهمو لاسته راوړنو څخه ګڼل کېږي.

د 2026 کال د اپريل له پای څخه د 2027 کال تر مني پورې به دا هنري اثر ننداري ته ولاړ وي. دا مجسمه د روبين د هماليا آرټ موزيم، د کولمبيا پوهنتون، او د يوې بلې يادګارونو ساتلو اداري يا بنسټ په مرسته او همکارۍ رامينځته شوې ده.



دا شانداره 25 فوټه لوړه ښکلنه مجسمه د باميانو بودا صلصال ته يو ځانګړی درنښت وړاندې کوي، د شپږمې پېړۍ دوه لويې مجسمې چې په مرکزي افغانستان کې ولاړې وې.

په 2001 کال د مارچ مياشت کې د طالبانو د واکمنۍ پر مهال دغه تاريخي مجسمې په ډېره غمجنه توګه ويجاړې شوې او په بمونو والوزولې شولې.

د ښاغلي نګوين هنري نوښت د صلصال مجسمې دقيق تاريخ بيانول نه دي، بلکې يو انعکاس دی، د بې عدالتۍ پر ضد يوه چيغه ده، چې موخه يې د افغانانو د ورکې شوې لمنځه تللې کولتوري ميراث يا خزانې يادونه بيا راژوندۍ کول دي.

د نګوين په هنري شهکار کې د بيا زېږيدنې يوه تکراري بڼه ليدل کېږي، چې د يوې معنوي يا روحاني مفکورې او يوې قوي سياسي استعارې په توګه نړۍ ته د ننداري لپاره وړاندې کېږي. نوموړې ځيرې چې ځنګه تير وختونه تېر شول.

ويټنامی هنرمند مجسمه جوړونکی ښاغلي توان انډريو نګوين خپل خورا مهم هنري اثر

"The Light That Shines Through the Universe"هغه رڼا چې د کايناتو له لپارې ځليږي,, په نامه ننداري ته وړاندې کړې.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولۍ

د دې هنري اثر سرلیک په مستقیم ډول هغو مینه ناکو القابو ته اشاره کوي، کوم چې افغانان د لوی بودا لپاره کارولې دي. ,,صلصال,،، چې مانایې "هغه رڼا چې پر ټولو کایناتو باندې ځلیږي" ژباړل کیږي.



هنرمند دا څیږي چې څنګه پخوانۍ یا زړې بې عدالتۍ زموږ په معاصر ژوندانه چاپېریال کې لا هم په دوامداره توګه دوام لري او په دې ډول بیا راڅرګندیږي.
هنرمند په خپله مجسمه کې د موادو کارولو لپاره هم ورته پېچلو حساسو موضوعاتو ته اشاره کوي؛ په ځانګړي توګه، مجسمه جوړونکی هنرمند د (1975-1955) د ویټنام جګړې میراث ته اشاره کوي، او دوامداره تاوتریخوالي او روحي تراوما ته چې تر نن ورځې پورې پر سیمه ییزو خلکو او ټولنو اغیزه کړې بیانوي. افغانستان هم د ویټنام په څېر د پخوانۍ شوروي اتحاد او د امریکې د ویټنام جګړې خونړۍ تاریخ لري.
د افغانستان جګړه او د ویټنام جګړه په پراخه کچه د بشري تاریخ ترټولو لوی بې رحمه هوایي عملیاتو په نامه پیژندل او شمېرل کیږي، امریکایانو په ویټنام کې د ناچاودیدونکو توکو او ګڼ شمیر د درنو وسلو مرمۍ شاته پرېښودلې، دغه پوځي چاودیدوکې توکې ونه توانیدل چې وچاودي- لکه غټ غټ بمونه، لاسي بمونه، او د توپخانې درنې مرمۍ کومې چې په چاودیدنه کې پاتې راغلي یا پوچک شوي پاتې شوې وې.
هنرمند نګیوین د تاوتریخوالي دا اوسپنېزه خطرناکه شیان د مسو او جست فلزي توکې را اخیستي، هغه بیا ویلې کړي، او د بودېزم مذهب په فلسفه کې د شفا ښنونکې توکو انعطاف په کې راولې او دا توکې په دې مانا کاروي او ننداري ته وړاندې کړي.
د نوموړي نور هنري اثار هم اکثرأ د جګړې، د کولونیالزم یا استعمار، بې ځایه کیدو او د ډله ییزې خاطرو پایلې سره پرتله کوي. خو دا هنري کار یوه پیاوړې سېمبولیکه مانا لري، په ځانګړې توګه د افغانستان تاریخ او کولتور لپاره
دا مجسمه د یوه بېساري کولتوري میراث د له لاسه ورکولو یادونه کوي، خو دا هم ښیي چې د بامیانو د بوډا کیسه په ټوله نړۍ کې دوام لري - د کولتوري ویجاړۍ په وړاندې د امید او انعطاف سېمبول په توګه.

## د جګړه ییزو موادو بیا کارونه او هنري بیا تولید

د نوموړي د هنري کړنلارې له بنستیزو تخنیکونو څخه یو دا دی چې د جګړې پاتې شوني توکې په فزیکي ډول ویلې کوي او له هغوی څخه نوې هنري بڼې رامنځته کوي. د بېلګې په توګه، د بودا د لاسونو د مجسمو په جوړولو کې د توپ مرمیو (artillery shells) پاتې شوني پوښونه کارول شوي دي. په دې توګه، د ویجاړۍ مادي نښې او سېمبولیک عناصر د داسې هنري اثارو په بڼه بدلیږي، چې د درملنې، شفقت او مقاومت مفاهیم انعکاسوي.
انځورګر نګوین د پنځوس ټنه شګلنې ډبرې دا جوړښت د یوې دقیقې کاپۍ په توګه نه، بلکې د حافظې له ژورو کندو څخه راټوکېدلې یو ,,غږ,, په توګه تشریح کوي؛ داسې یو هنري بیان چې د تېر وخت، ویجاړۍ او انساني ترخو تجربو انعکاس په کې لیدل کیږي
د مجسمې د شګلن بدن او د سرو زرو د اوسپنیزو لاسونو ترمنځ قصدي واټن یوازې یو فزیکي تشه نه ده، بلکې ژوره هنري او فلسفي مانا لري. دغه واټن څرګندوي چې، سره له دې چې مجسمه د نه جبرانېدونکې ویجاړۍ نښه ګرځېدلې، د هیلو، بیا راژوندي کېدو او معنوي حیات څرک لا هم ژوندی دی. هنرمند په همدې سېمبولیک واټن سره دا پیغام وړاندې کوي، چې د فرهنګي حافظې او انساني روح ځواک د فزیکي ویجاړۍ تر سیوري لاندې هم نه مري، بلکې د بیا رغونې او نوې مانا موندنې امکان تل پاتې وي.
د مجسمې د لاسونو موقعیت په بشپړه توګه د بوډایي دودونو او سېمبولیکو اشارو پیروي کوي.
د مجسمې ښي لاس: ,, Abahya Mudrā,, د ساتنې، ډاډمنتوب او له وېرې څخه د خلاصون استازیتوب کوي.
د مجسمې کین لاس: ,, Varada Mudrā ,, د شفقت، رحمت او د هیلو د پوره کیدو سېمبول ګڼل کیږي.
د مجسمې سرو زرو لاسونه په ځانګړي ډول سېمبولیک اهمیت لري. دغه لاسونه په ویټنام او افغانستان کې د امریکایي او روسي توپخانو او ثقیله مهماتو د مرمیو د پوښونو څخه جوړ شوي دي
په دې توګه، دا هنري کار جګړې او د ویجاړیو یادونه د هیلو، شفا او کولتور نوي کولو سره نښلوي.
انځورګر نګوین دا اثر د ویجاړ شوي مجسمې دقیق بیارغونه نه ګڼي، بلکه دی دا ښودل غواړي، چې کولتور، حافظې او خاطرې د تاوتریخوالي سربېره ژوندي پاتې کیدلي شي.
نګوین له تاوتریخوالي ډک توکې او شیان رااخیستي، هغه بیا ولي کړي او د شفا ښنونکې توکو په توګه یو هیله ښنوونکی شکل ورکوي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

ویتنامی هنرمند د بودا سرو زرو لاسونه د بیا تصور کولو لپاره (form of alchemy) د الکیمي هنري بڼه په کې کارولي. د مجسمې اوسپنېزه توکې د ویلې شوي امریکایي توپخانې ګولیو او بمونو څخه جوړ شوي دي او د مجسمې په جوړښت کې ترینه کار اخیستل شوي دی.

د بامیان صلصال بودا مجسمه چې 8,2 متره لوړوالي لري، دغه مجسمه په ویتنام کې جوړه شوي، په کښتی کې تر امریکې پورې لیږدولي شوي ده. په افغانستان کې د ویجاړه شوي بودا صلصال مجسمې څخه الهام اخیستي دی. دا مجسمه به د نیویارک ښار مانهاټن سیمه کې د لسم ایونیو او د 30 سړک په کونج کې د هایلاین په تخته کې د عامو خلکو ننداري ته درول شوي ده.

د 2026 کال پسرلی راهېسې کله چې په نیویارک ښار کې نیویارکیان د (High Line Avenue) هاې لاین اوېنیو کې چکر وهي، دوی د خپل نوی ګاونډی "بودا " هره ورځ ویني.



د دې نوی ګاونډی تاریخ زرګونو کلونو، سترو براعظمونو او جګړیپږو شخړو ته ورغځېدلي دی.

دا مجسمه د 18 میاشتې لپاره نیویارک په ښار کې هر سیلاني ته د لیدلو او کتلو وړ ده. دا مجسمه د نیویارک ښار په مانهاټن سیمه کې د یوې ګڼې ګوڼې څلور لارې په سر کې نصب شوي ده.

د مجسمې درول د افغانانو تمدن، تاریخ او کولتور ته یو ډول ځانګړی درنښت دی.

دا یو تش,, غږ,, دی، چې موخه یې د خاطرو بیا راژوندي کول، نه د تاریخ بیا راژوندي کول دي.

دا مجسمه د یوې مهمې پېښې یادونه کوي، کله چې پر کولتوري شیانو برید وشي، له منځه یوړل شي یا قصداً ټوټه ټوټه او ویجاړ کړل شي، هغه کیداې شي بیا وروسته را ژوندی شي، ځینې وختونه حتی د اتو مترو په لوړوالي کې بیا سر د عصري نړۍ په مرکز او د نړیوال اقتصاد په ستر ښار نیویارک کې راپورته کړي او راڅرګنده شي.

د نیویارک ښار د متحده ایالاتو یو تر ټولو زیات لیدل کېدونکی مشهور ګرځندوي ښار دی. په هر کال کې د 60 میلیونو زیات سیلانیان ځان ته راجذبوي. د سیلانیانو تګ راتګ د نیویارک ښار او ایالت لپاره یوه لویه حیاتي مالي سرچینه ګڼل کیږي.

د 2001 کال د مارچ په میاشت کې طالبانو د افغانستان په مرکزي دره کې د بامیان تاریخي بودا مجسمې ویجاړې کړې. د شپږمې پیړۍ مجسمې د وریښمو لارې په اوږدو کې د کولتوری او اقتصادي تبادلې نقطې په توګه د اسلام سپیڅلي دین څخه مخکې تاریخ یادوني کوي.

د 120 او 175 فوټو په لوړوالي سره د بوډا مجسمې د تنوع، هنر، کولتور او ختیځ بودایي مذهب سېمبولونه ګڼل کیدل. خو په خواشینۍ سره طالبانو دغه مجسمې نه شوې زغملي. دوی دغه تاریخي یادګارونو د ژغورلو لپاره د نړیوال فشارونه له پامه وغورځول او د زرګونو کلونو تاریخ د له منځه وړلو لپاره چاودیدونکي توکي وکارول.

## د ګندهارا تمدن د بودایي هنر مکتب او د بامیانو د بودا مجسمو ترمنځ هنري او تاریخي اړیکي

د بامیانو درې کولتوري ښکلي منظره او لرغوني پاتې شوني د افغانستان، مرکزي آسیا او د بشري تمدن د ګډ فرهنګي میراث له ارزښتمنو آثارو څخه شمېرل کیږي. دغه سیمه د لومړۍ میلادي پیړۍ څخه تر دیارلسمې میلادي پیړۍ پورې د مذهبي، هنري او تمدني ودې یو مهمه مرکز و. د بامیانو درې د وریښمو پر تاریخي لارې موقعیت درلود او د هند، پارس، مرکزي آسیا او چین ترمنځ یې د سوداګرۍ، د افکارو تبادلې، مذهبونو او هنري دودونو د تبادلې لپاره د یوه مهم پُل رول لوباوه.

په همدې تاریخي بهیر کې، د ګندهارا پټ جنت تمدن د بودایي هنر مکتب د بامیانو د هنري هویت په جوړېدو کې بنسټیز رول ادا کړي. د ګندهارا هنري مکتب، چې د لومړۍ پیړۍ مخکې له میلاد څخه تر پنځمې میلادي پیړۍ پورې د ګندهارا په سیمه کې د لوی افغانستان د پېښور شاوخوا او د اوسني افغانستان ختیځو برخو کې وده وکړه، دا د بودایي، هندي، یوناني ـ هیلنیستي، رومي او ساساني ـ پارسي هنري دودونو د ګډ تعامل پایله وه. د اسکندر مقدوني له لښکرکښۍ وروسته په سیمه کې د هیلنیستي هنر نفوذ د دې لامل شو، چې د بودا انځورونه د لومړي ځل لپاره د انساني بڼې په څېر په خورا طبیعي او هنري ډول مجسم شي.

کله چې د شپږمې او اوومې میلادي پیړۍ په اوږدو کې د بامیانو سترې بودایي مجسمې جوړېدې، د ګندهارا تمدن د مکتب هنري ځانګړتیاوې په څرګند ډول په هغو کې انعکاس وموند. د بدن متناسب جوړښت، د پښتنو څېرو طبیعي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



بنه، د جامو اغوستلو ډولونه او رواني چيني، د يوناني ـ رومي مجسمه سازۍ اغېز، او د بودا د څېرو ارام شکل، متين او روحاني حالت ټول د همدې هنري دود ځرګندې نښې نښانې دي.
خو د باميانو هنرمندانو يوازې د ګندهارا هنري سبک تقليد ونه کړ، بلکې هغوي د خپل ځمکنۍ چاپېريال، کولتور او تخنيکي وړتياوو له مخې نوره هم وده ورکړه. دوی د شګلنو غرونو په زړه کې دوه سترې بودايي مجسمې شهمامه او صلصال، چې شاوخوا 38 او 55 متره لوړوالی يې درلود، جوړې کړې. دغه مجسمې وروسته د ختې، ګچ او رنګونو په پوښښ ښکلي رنګ شوي او د سرو زرو او نورو قيمتي رنګونو په وسيله سينګار شوي وې. له همدې امله د باميانو بوداګان د ډېره تراشۍ، مجسمه سازۍ او ديوالي انځورګرۍ د ګډ هنر بېسارۍ شهکار ګڼل کېږي.
د باميانو سلګونه غارونه، چې د بودايي راهبانو د عبادت، مراقبې او استوګنې لپاره جوړ شوي وو، په ښکلو ديوالي انځورونو پوښل شوي وو. د دغو انځورونو د کيمياوي څېړنو پايلو ښودلې، چې ځينې يې د نړۍ له تر ټولو پخوانيو د تېلو يا روغني رنګونو انځورونو څخه دي، چې دا د باميانو د هنرمندانو د لوړې تخنيکي پوهې او هنري نوښت ځرګندونه کوي.
باميان يوازې يو مذهبي مرکز نه و، بلکې د ختيځ او لويديځ ترمنځ د تمدنونو د نښلېدو يو مهم پُل هم و. دلته د ګندهارا تمدن هنري دود د مرکزي آسيا، ساساني ايران او سيمه ييزو هنري عناصرو سره يو ځای شول او يو ځانګړی سيمه ييز سبک يې وزېږاوه. له همدې امله د باميانو بودايي هنر د ګندهارا تمدن د مکتب د تکامل وروستۍ او تر ټولو ستره هنري مرحله بلل کېږي.
په 2001 کال کې طالبانو د باميانو دواړه سترې بودايي مجسمې په چاودنو سره ويجاړې کړې. که څه هم دغه نړيوال فرهنګي ميراث له منځه ولاړ، خو د مجسمو تشې سمڅې، غارونه، ديوالي انځورونه او نور لرغوني پاتې شوني لا هم د ستر بشري تاريخ او تمدن ژوندۍ نښې نښانې دي. همدې ارزښت ته په کتو، يونسکو په 2003 کال کې د باميانو درې کولتوري منظره او لرغوني پاتې شوني د نړيوال ميراث په نوملړ او هممهاله د له خطر سره مخ نړيوال ميراثونو په نوملړ کې شاملې کړلې.
په پايله کې ويلای شو، چې د ګندهارا تمدن د بودايي هنر مکتب د باميانو د بودا مجسمو د هنري جوړښت اساسي بنسټ جوړوي، خو د باميانو هنرمندانو د سيمه ييزو، مرکزي آسيايي او ساساني هنري عناصرو په ورګډولو سره دغه دود يوې نوې او خپلواکې مرحلې ته ورساوه. له همدې امله د باميانو بودا مجسمې د ګندهارا تمدن د هنري مکتب د نړيوال نفوذ، د وربښمو لارې د فرهنګي تبادلې او د افغانستان د لرغوني تمدن د هنري نوښت تر ټولو ستره نښه ګڼل کېږي.
بوديزم په څلورمه پېړۍ کې د ختيځ هند څخه پيل شو او وسمهال د عيسويت، يهوديت، اسلام او هندويزم وروسته په نړۍ کې څلورم لوی مذهب دی.

## له ګندهارا څخه تر باميانو پورې د بودايي هنر تاريخي سفر

د بودايي هنر د تاريخ په اوږده بهير کې د ګندهارا تمدن د هغه ځای په توګه ځانګړی اهميت لري، چې د بودا د انځوريزې او مجسمه سازۍ دود په کې په يوه نوې هنري بڼه کې راڅرګند شو. تر دې وړاندې په لومړيو بودايي دورو کې د بودا د شخصيت د مستقيمي مجسمې پر ځای د هغه د حضور سيمبولونه لکه د بودا د پښو نښې، د بودا ونې او د بودا تش تخت انځور کيده يا کارېدل. خو د ګندهارا تمدن په سيمه کې، د يوناني ـ هيلنيستي هنر له اغېزو سره يو ځای، د بودا انساني څېره د لومړي ځل لپاره په منظم هنري شکل رامنځته شوه.
د ګندهارا تمدن سيمه د خپل جغرافيايي موقعيت له امله د ختيځ او لويديځ د تمدنونو د يو ځای کېدو سيمه وه. د اسکندر مقدوني له يرغلونو وروسته په دې سيمه کې يوناني هنري دودونه، او وروسته د کوشاني امپراتورۍ د پراخ فرهنګي چاپېريال اغېزې، د بودايي هنر له هندي دودونو سره يو ځای شوې. د همدې تعامل په پايله کې د ګندهارا ځانګړی هنري سبک و، چې د بودا مجسمو ته يې طبيعي بڼه، انساني احساسات او کلاسيک هنري ښکلا ورکړه.
د کوشاني دورې، په ځانګړي ډول د ستر پاچا کنيشکا (لومړۍ ـ دويمه ميلادي پېړۍ) په وخت کې، بوديزم د مرکزي آسيا په لور پراخ شو. د وربښمو لارې له لارې بودايي راهبان، هنرمندان او فکري جريانونه له ګندهارا څخه باختر، تخارستان او بالاخره باميانو ته ورسېدل. په دې بهير کې باميان د بودايي فرهنګ يو مهم کولتوري مرکز شو.
په باميانو کې بودايي هنر د ګندهارا تمدن له بنسټونو څخه الهام واخيست، خو د سيمې د ځانګړو شرايطو له مخې يې نوی هم شکل پيدا کړ. د باميانو هنرمندانو د ګندهارا د طبيعي مجسمه سازۍ دود له مرکزي آسيايي او ساساني هنري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

عناصرو سره یو ځای کړ. پایله یې داسې سترې ډبرینې مجسمې وې، چې په نړۍ کې د بودایي هنر په تاریخ کې بېسارې بلل کېږي.
د بامیانو سترې بودا مجسمې یوازې مذهبي نښې نه وې؛ بلکې د هغه وخت د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي ځواک څرګندونه هم کوله. د دوی ستر ابعاد د دې ښکارندویې کوي، چې بامیان د سیمې په کچه یو مهم زیارتي، تصوفي او فرهنګي مرکز و. زرګونه راهبان او مسافر د وربښمو لارې له لارې دې ځای ته راتلل او د بامیانو خانقاهیي مرکزونو د بودایي زده کړو په خپرولو کې مهم رول درلود.

د بامیانو غارونه او نقاشۍ هم د دې فرهنګي سفر مهم اسناد دي. په دغو انځورونو کې د هند، مرکزي آسیا، ایران او حتی د مدیترانې سیمې هنري اغېزې لیدل کېږي. دا ښیي چې بامیان د بېلابېلو تمدنونو د ګډ ژوند او هنري تعامل یو روښانه مثال او مرکز و.
په لوی افغانستان کې د بودا مجسمې نږدې 1400 کاله د مسلمانانو د دولتونو تر واک لاندې سیمو کې ولاړې وې، خو هېڅکله ونه نړولې شوې.
د بامیانو بودا مجسمې شاوخوا 14 پېړۍ د مسلمانانو امپراتورۍ او ټولواکانو تر واک لاندې وې، د غزنوي، غوري، تیموري، مغولي، صفوي او ابدالي واکمنان راغلل، خو هیچا ویجاړې نه کړلې.
د اسلام سپېڅلي دین عملي او علمي تاریخ ښیي، چې د مجسمو ساتل د اسلامي ټولنو لپاره یوه عادي خبره ده، کله چې شرک پکې نه وي. ځکه ویجاړول د اسلام مبین دین "طبیعي" یا تاریخي سیاست نه دی، بلکې دا د معاصر افراطیت، تنګنظرۍ، سختدریځۍ او له تاریخ د ناخبرۍ محصول دی.

## د نړۍ اسلامي امپراتوریو او دیني علماو دریځ د لرغونو تاریخي مجسمو په اړه

اسلام د توحید یو سپېڅلي جهانشموله دین دی او د شرک ډېر سخت مخالفت کوي، خو د تاریخ په اوږدو کې اسلامي امپراتوریو د غیر اسلامي لرغونو آثارو په اړه بېلابېل عملي دریځونه درلودل. د اموي خلافت او عثماني امپراتورۍ تاریخ ښیي، چې د لرغونو مجسمو ویجاړول د دوی رسمي سیاست نه وو.
اموي خلافت، چې د اسلام له لومړیو دولتونو څخه و، ډېر تمرکز یې د سیمو په اداره، مالیه راټولو او امنیت په اړه و. په هغو سیمو کې چې بودایي مجسمې موجودې وې، زیاتره دا مجسمې د فعال عبادت لپاره نه کارېدلې، بلکې د تاریخي پاتې شونو په توګه پاتې وې. له همدې امله اموي واکمنانو هغوی ته د عاجل مذهبي ګواښ په سترګه ونه کتل.
عثماني امپراتورۍ، چې څو پېړۍ یې دوام وکړ، د حنفي فقهي مذهب پیروان وو. د دې مذهب له مخې، که پر کومې مجسمې عبادت نه کېږي، نو ویجاړول یې لازم نه دي.
همدې اسلامي فقهي زغم او پوهه د دې لامل شو، چې د عثماني امپراتورۍ تر واک لاندې سیمو کې ډېر لرغوني اثار وساتل شي.
د بامیانو د بودا مجسمې د دې تاریخي چلند ښکاره بېلګه ده. دا مجسمې نږدې څوارلس سوه کاله د مسلمانانو تر واک لاندې سیمو کې ولاړې وې، خو هېچا ویجاړ نه کړې. دا ښیي چې د اسلام په تاریخي عمل کې د لرغونو آثارو ساتل یو عادي کار و، تر هغه چې د شرک سبب نه ګرځېدل یا کېدل. بیشکه چې اسلام د سولې اود زغم ستر نړیوال یا جهانشموله دین دی.
په پایله کې ویلای شو، چې د بودا مجسمو ویجاړول د اسلامي امپراتوریو عمومي دود نه و، بلکې دا د معاصر افراطي سختدریځه او تنګنظره فکر پایله ده. اسلام د عقیدې اصلاح ته اهمیت ورکوي، نه د تاریخي میراثونو له منځه وړلو ته. اموي، عثماني او افغاني امپراتورۍ واکمنانو د بودا مجسمو ته یې د تاریخي میراثونو په سترګه کتل. دوی ځکه نه نړولې، چې فعاله عبادت پرې نه کېدلو.
تر ټولو مهمه خبره دا ده، چې عثماني امپراتورۍ په ترکیه، سوریه، عراق، ایران او نورو اسلامي هیوادونو کې او اموي امپراتوي په شمالي افریقا اسلامي هیوادونو کې لکه تونس، الجزایر، لیبیا او مصر کې سترو سترو مجسمو ته هېڅ ډول زیان ونه رسولو. کله چې دلته اسلام مبین دین خپور شو، بیا هېڅکله مسلمانانو د دغې مجسمو عبادت ونه کړ. دا مجسمې یوازې کولتوري او تاریخي مېراثونو ارزښت لري او بس.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ